# د ژبپوهنې یوه مطالعه

# A study of linguistics

Dr Qadar wahid (samndar yousafzai)*

Abstract

The scientific study of language is called linguistics. The question is whether linguistics is a science or an art, the answer is both because linguistics is related to literature and social sciences, but phonetics is a branch of linguistics and is actually based on science. Linguistics has two main branches, micro-linguistics and macro-linguistics, micro-linguistics is the study of a language on a limited level and macro-linguistics is the study of a language on a large scale. There have been different thoughts in the field of linguistics at different times, that is why this research paper has discussed about linguistics, the question of whether it is a science or an art, as well as the branches of linguistics and different schools of linguistics.

**Keyword:** language, linguistics, phonology, phonetics, macro, micro linguistics,

د ژبې نه پس دوېمه اصطلاح د ژبپوهنې راځي چې په اردو کښې ورته لسانیات او په انګرېزۍ کښې ورته لنګوسټکس وائي. دغسې په مختلفو ژبو کښې ورته هم په دغه معنو او مفهوم کښې خپل خپل نومونه ورکړے شوي دي چې غرض او مقصد ئې د ژبې سائنسي مطالعه کول وي. سائنسي مطالعه ورته ځکه وائي چې انساني ژبه چې څنګه ده چې هم هغسې مطالعه شي او د مختلفو اړخونو ئې په بشپړه توګه احاطه اوشي. د هر قسمه احساساتو، جذباتو او خوښې نا خوښې نه په کښې ډډه اوشي. انساني ژبه هم هغسې مطالعه شي لکه څنګه چې د سائنس په مېدان کښې مختلف څېزونه تجزیه کېږي.

ژبپوهنه د ژبې او پوهنې نه جوړ مرکب دے چې مطلب ئې دے د ژبې علم او پوهه او لسانیات د "لسان او یات" نه جوړ مرکب دے لسان ژبې ته وائي او یات د پوهې او علم په حواله راځي لکه اسلامیات، د اسلام په حواله مطالعه، معاشیات یعني د معیشت په

* Assistant professor Department of Pashto university of Malakand

حواله علم دغه شان linguistics لینګوستکس د لینګویج د مختصر شکل lingua او istics مجموعه ده چې لینګویج ژبې ته وائي او د استکس مطلب علم او پوهه ده. لکه مونږ چې mathematics او statistics په کومو معنو کښې استعمالوؤ هم دغه رنګ لینګوستکس هم دے . دغه ټول اصطلاحات د یو غرض او مقصد په لړ کښې استعمالیږي.

په انګریزۍ کښې د لینګوستکس نه مخکښې هم د ژبې د علم او مطالعې په لړ کښې مختلف اصطلاحات استعمال شوي دي لکه ګلاسولوجي Gloss ology چې د ژبې د قاعدو پورې محدوده وه. بیا فلالوجي[1] philology اصطلاح هم استعمال شوه او بیا د لینګوستکس اصطلاح نړۍ قبوله کړه . د فلالوجي او لینګوستکس تر مېنځه فرق او د لینګوستکس راتګ او ضرورت انسائیکلوپیډیا بر ټانیکا داسې وړاندې کړے دے.

د لینګوستکس لفظ په وړومبي ځل د نولسمي پېړۍ په نیمه کښې استعمال شو کوم چې د روایتي اپروچ فلالوجي نه مختلف ؤ. فلالوجي په بنیادي توګه د ژبو د تاریخي ودې او د لیکلې ژبې او د هغې سره د تړلي ادب او کلتور احاطه کوي. ولې لینګوستکس د لیکلې متن او د وخت سره د ژبې د بدلون او وئیلې ژبې یعنې خبرو اترو د ستونزو په حواله بحث کوي.[2]

ژبپوهنه د ژبې سائنسي مطالعې ته وائي په کومه کښې چې د ژبې د فطرت، د ژبې د جوړښت او بدلون سره سره د عامو او خاصو غړونو او مختلفو اکائیانو په بشپړه توګه احاطه کېږي او هغه ټولې ژبنۍ ستونزې په نظر کښې ساتي کومې چې ژبو ته وخت په وخت پېښېږي. دغه شان د ژبو د تاریخ او د ژبو د خاندانونو په حواله هم خپله ونډه تر سره کوي . د مختلفو ژبو تر مېنځه مماثلتونه او توپیرونه او د هغې وجوهات هم مطالعه کوي

په یوې یا ډېرو ژبو زده کولو او د ژبې په حواله په زده کړه کښې ډېر فرق دے د ژبې په حواله زده کړه یعنې ژبپوهنه هغه لارې چارې مطالعه کوي د کومو په ذریعه چې انساني

خیالات منظم کېږي او خپل ضرورت پوره کوي ۔ په ژبپوهنه کښې د ژبې عمومي اصول، ترتیب، تنظیم، رویه تجزیه کېږي او د مختلفو ژبو ترمېنځه مماثلت او توپیر هم مطالعه کولے شي ۔ مونږ د ژبې د زده کړې او د ژبې په حقله د زده کړې یعنې ژبپوهنې وضاحت په دې مثال سره کولے شو ۔د ژبې د زده کړې مثال د ګاډي د چلولو یعنې ډرائیونګ دے او د ژبپوهنې مثال د ګاډي د مستریتوب دے چې ګاډے ځنګه کار کوي ۔ په ژبپوهنه کښې هم د ګاډي په رنګ مختلفې حصې سپړدلې شي ۔ د یو بل تر مېنځه ئې د ربط او طریقه کار په حواله ئې بحث کېږي[3] ۔

ژبپوهنه یوه پېچیده او فراخه موضوع ده ۔ د دې د فراختیا اندازه د دې نه کېدے شي چې د ادب نه علاوه د تاریخ، نفسیاتو، عمرانیاتو، بشریاتو، فلسفې ،منطق او اساطیرو ماهران هم په دې کښې دلچسپي اخلي ۔دا اوس د ادب په شان فراخه وسیع او بین العلومي مضمون ګرځېدلے دے[4]۔

- ژبپوهنه سائنس دے کهٔ نهٔ ?Is linguistics science

د ژبپوهنې د سائنس سره د رګ ریښې معلومولو نه وړاندې په دې سوال غور پکار دے چې ولې د ا سوال راپورته شوے دے چې ایا ژبپوهنه سائنس دے ؟نو د دې سوال د تفصیلي جواب نه مخکښې دا خبره په ذهن کښې یاد لرل پکار دي چې د ارتس په مېدان کښې چې چرته هم دا قسمه سوال راپورته شي نو مطلب ئې دغه وي چې ځهٔ نهٔ ځهٔ رشته یا ابهام ضرور لري ځکه چې کله خبره واضیحه وي بیا دا قسمه سوالونو راپورته کولو ته حاجت نهٔ وي۔

وړاندې د دې نه چې ژبپوهنه سائنس دے کهٔ نهٔ دے؟ اول په دې بحث اوکړو چې سائنس ځهٔ ته وائي؟ د سائنس اصطلاح د علم په حواله په عمومي توګه پکارېږي چې بنیاد ئې په سوچه، عقلي او منظم شکل کښې وي ځکه مونږ اکثر وایو د سیاست سائنس د (Science of politics) د پخلي سائنس (the science of cooking) خو بیا هم

مونږ د سائنس اصطلاح د یوې phenomena (مظاهرو) د منظمې مطالعې د پاره هم استعمالوؤ، په څۀ چې مونږ د (مظاهرو) phenomena په حواله څۀ اصول او نظریات بیانولے شو او بیا په عمومي ډول د مشاهدو او تجربو په ذریعه ازمائیلې شوې مواد مخ په وړاندې بیائي. د دې سره سره ثابت شوي وضاحتونه هم پېش کوي.[5]
سائنس د علم او پوهې هغه نظام او میدان وي چرته چې د فزیکي دنیا او د هغې د مظاهرو په غېر جانبداره او منظمه توګه مشاهده او تجربه کېږي او د عمومي حقیقتونو او بنیادي قوانینو د علم د حاصلولو تعقب کوي.[6]

سائنس په کلیو ،فارمولو او تجربو اډانه لري. غېر جانبداره نتېجې ورکوي، چې په هرځائے هر وخت او د هر چا د پاره قابل قبول وي. د دغه مختصر بحث په رڼا کښې اوس ګورو چې ژبپوهنه په دغه معیار تر کومه پوره خېژي.

ژبپوهنه په عمومي ډول زیاتره علاقه د ادب سره تعلق ساتي او ادب د سائنس ضد وي خو په یو وخت د ادب او سائنس په مېدان کښې قدم کښېخودل د ژبپوهنې مجبوري ده ځکه چې که یو خوا ژبپوهنه د ادب په مېدان کښې ایوه چلوي خو طریقه کار ئې ټول په ټوله سائنسي وي. د سائنس په شان کلیې، فارمولې او غېر جانبداره مشاهده او تجربه کوي.

په دې کښې داسې نۀ وي چې ژبه څنګه وئیل پکار ده؟ بلکې د هغې ژبې مطالعه کېږي کومه چې انسان وائي. په ژبپوهنه کښې د عارضي نتېجو تصدیق کېږي. په دې کښې تجربه ګاه په دوه قسمه وي. یوه باقاعده تجربه ګاه یعني لینګویج لیبارټري وي، دوېمه مخصوصه ډله وي چې د هغوي خبرې اترې واورېدې شي.[7]

ځکه نو مونږ ژبپوهنه د سائنس نه په یو صورت هم نۀ شو جدا کولې او دلته دغه سپیناوې هم ضروري دے چې ژبپوهنه لکه د ریاضی، فزکس وغېره په شان خالص سائنس نۀ دے .البته ژبپوهنه په خپل وجود کښې بلها اړخونه لري چې په هغې کښې څۀ

برخې هم د دغه سوچه سائنس سره علاقه لري لکه د مثال په توګه غږپوهنه کومه چې د ژبپوهنې اهمه څانګه ده.

"د ژبې غږيز مواد مونږ ته د غږ په حقله علم راکوي. د غږ پېدا کېدل يعني Articulation د غږ ترسيل او بيا د غږ اورېدل د دې ټولو اړخونو مطالعې ته غږ پوهنه وئيلے شي. د غږ پوهنې مطالعه په بنيادي توګه د فطري، طبعي او حياتياتي سائنس سره تعلق لري. په غږ پوهنه کښې مونږ د غږيز اعضاؤ مطالعه کوؤ چې د ژوند پوهنې د لاندې راځي. د غږ پېدا کېدل د دې تر سيل او اورېدل د فزکس په دائره کښې راځي او دا ټول د سوچه سائنس سره تعلق لري او د دې ټولو سرګرمو مشاهده د تجربو په ذريعه کولے شي."[8]

په غږپوهنه کښې د اواز پېدا کېدل چې د کومو غږ ځايونو او غږ اندامونو نه کېږي لکه د پړپوس، ډايا فرام، ليرنکس، ووکل فولډز، فيرنکس، د پوزې خانه او د خولې د خانې پورې په هغه هر اندام او غړي خبره کول د بيالوجي، زوالوجي او فزيالوجي سره نېغ په نېغه تعلق ساتي کوم چې فطري سائنس دے. هم د دغې غړو او اندامونو کار به ارومرو غير جانبداروه او سائنسي تجربه او مشاهده غواړي. دغه شان د غږ د ترسيل په حواله چې مونږ د غږ کومه تجزيه کوؤ او د غږ په ايمپلي چيوډ، فريکونسي، انټنسټي، شدت، پچ او کيفيت خبره کوؤ نو په خالصه توګه به د فزکس د مېدان نه مشاهدې او تجربې کوؤ ځکه نو دغلته بيا نېغ په نېغه د سائنس سره د ژبپوهنې تعلق ښکاره شو او د غږ د اورېدو په دوران کښې چې په auditory phonetics غوږيزه غږپوهنه بحث کېږي او غږ د غوږ د دريو مختلفو حصو نه تېرېږي نو هم دغه عمل د سوچه سائنس سره تعلق ساتي. په دغه مزکوره ټول عمل کښې چې څومره هم د ناپ تول او نور څومره هم مشينونه استعمالېږي، هغه ټول سائنسي دي او خپلې کليې، فارمولې او اکائيانې لري.

په تقابلي ژبپوهنه کښې خو ټولې لارې چارې د سائنس استعمالېږي. البته په

تاريخي ژبپوهنه کښې په قياسونو او مفروضو اډانه وي، ولې طريقه کار ئې سائنسي وي. د ژبپوهنې چې نورې کومې څانګې دي په هغې کښې اعصابي ژبپوهنه هم د سوچه سائنس سره تعلق ساتي. البته ټولنېزه او نفسياتي څانګې ئې د سوشل سائنس د مېدان سره تعلق ساتي.

ژبپوهنه د ټولنيز سائنس سره تعلق په دې ساتي چې په دې کښې ژبپوهان د مفروضې په بنياد مطالعه کوي او مواد راجمع کوي. دغه شان د تجرباتي سائنس په توګه په ژبپوهنه کښې د مشاهدو او تجربو په ذريعه مطالعه کېږي او د R.A hall په خيال د ژبپوهنې مثال لکه د جيالوجي د سوچه او ټولنيزو سائنسونو تر مېنځه دے.[9]

د ژبپوهنې په دغه حواله بحث کول چې دا د ټولنيزو سائنسونو سره څومره او په کوم کوم ځاے کښې تعلق ساتي يا دا په ارټس او Humanities کښې څومره لاس لري، زما په خيال عبث دي، ځکه چې دا خو ښکاره ده چې د ژبپوهنې تعلق نېغ په نېغه د ژبې سره دے او ژبه د ادب او سوشل سائنس سره تعلق ساتي خو هغه څۀ وجه ده چې مونږ ژبپوهنه په سائنس کښې شاملوؤ نو د هغې د دغه تېر ذکر شوؤ مختلفو اړخونو په بنياد مونږ وئيلے شو چې ژبپوهنه سائنس هم دے.

- د ژبپوهنې څانګې Branches of linguistics

د ژبپوهنې په حواله چې کله په تفصيل سره په سائنسي توګه مطالعه کېږي نو ژبپوهنه بيا په دوؤ غټو څانګو کښې تقسيمېږي چې يوې ته مائيکرولينګوسټکس Micro linguistics يا General linguistics يعنې عامه ژبپوهنه وائي او بلې ته ميکرولينګوسټکس Macro linguistics يا Applied linguistics مستعمله ژبپوهنه وائي. دا دواړه څانګې بيا ځانله ځانله اړخونه او مېدانونه لري ځکه نو ترتيب وار ئې وضاحت ضروري دے.

- مائيکرو لينګوسټکس يا عامه ژبپوهنه: Micro / General linguistics

د مائيکرو ژبپوهنې مطلب د نوم نه واضيحه کېږي چې په وړه پېمانه د ژبې په حواله د ژبې د وجود نه بهر چې څۀ وي هغه په مطالعه کښې نۀ راوستلے کېږي بلکې په ژبه کښې دننه چې څومره څۀ دي هغه احاطه کولې شي، چې په کښې غږونه، ګرائمر، لفظونه، جملې او معنې شاملې دي. د ژبپوهنې دا څانګه په عمومي ډول د ژبې د لفظ د

اخري اکائۍ نه واخله تر جملې او پېراګراف پورې د مطالعې سره سره د معنو په حواله هم خبره کوي. دغه شان د غږ هم هر اړخيزه مطالعه کوي، چې د ژبپوهنې په اصطلاح کښې ورته غږپوهنه,phonetics) (phonology) لفظ پوهنه /صرف (morphology) نحو (syntax) پرګمېټکس (pragmatics)معنيات (semantics) وئيلې شي .د دغه مذکوره څانګو مختصر ذکر څۀ په دې ډول دے.

- غږپوهنه/فونيټکس او فونالوجي:

په ژبپوهنه کښې د غږ د پېدا کېدو او د غږ د ادا کېدو عمل ته غږپوهنه وائي. د غږ د پېدا کېدو عوامل يعنې اندامونه کوم کوم دي او کوم کوم اندام او غږ غړے د غږ په پېدا کېدو کښې څنګه خپل کردار لوبوي. دغه اندامونه په سائنسي توګه مطالعه کولے شي، په دغه اندامونو کښې د پرپوس،ليرنکس،فرينکس نه واخله د پوزې او د خولې د خانې پورې ټول غږ غړي او اندامونه مطالعه کولے شي. د دغه غږ غړو او غږ اندامونو په حواله چې کوم عام غږونه مطالعه کېږي هغې ته په انګرېزۍ کښې فونيټکس وائي او هغه غږونه چې د يوې ژبې ځانګړي يا امتيازي وي د هغې مطالعې ته فونالوجي وائي.

- لفظ پوهنه /صرف (morphology)

مارفالوجي ته په عربۍ کښې صرف او په پښتو کښې ورته مونږ لفظ پوهنه وئيلې شو. په ژبپوهنه کښې د لفظ د پاره د مارفيم اصطلاح پکارولے شي او مارفيم د لفظ اخري اکائي وي.

د لفظ په کچ د يوې ژبې د وړې نه وړې اکائۍ مطالعې ته مارفالوجي وائي[10].

مارفالوجي د لفظونو د هئيت،شکل، صورت او د ساخت د مطالعې په توګه پکارېږي. په يوه ژبه کښې د لفظونو د جوړښت د لفظونو تر مېنځه تعلق مطالعه کول د مارفالوجي کار وي. لفظ د ژبې اکائي وي او دغه اکائي په خپل وجود کښې دننه مختلفې تکنيکي لارې چارې لري، ځکه د دغه بنيادي عناصرو تکنيک کوم چې د ژبې پېغام له شکل ورکوي،دغه بنيادي عناصر په مارفالوجي کښې مطالعه کېږي او دغه عناصر په ژبپوهنه کښې د مارفيم په نوم يادولې شي.

- نحو syntax

د یو لفظ د هر اړخیزې مطالعې او لوستې نه پس چې کله خبره د جملې د جوړښت او ترتیب په حواله راځي نو د نحو او syntax نومونه مخې ته راځي چې معنې او مطلب ئې یو دے۔ نحو د عربۍ ژبې ټکے دے،رسم،لاره او طور طریقه ده دغه شان syntax د یونانۍ ژبې نه راغلے ټکے دے چې معنیٰ ئې " یو ځاے کول" او یا " ترتیب" دے۔ ځکه نو اوس د عربۍ د نحو او د انګرېزۍ د syntax مطلب په ژبپوهنه کښې د جملو د ساخت، هیئت او جوړښت په حواله د لفظونو د ترتیب د اصولو او قاعدو مطالعې ته وائي۔

په نحو کښې هڅه کېږي چې په جمله کښې کوم عناصر وي د هغې ترتیب جوړښت توضیح او تحلیل اوشي او هغه اصول راډاګې ته شي، د کوم په ذریعه چې د جملې بنیادونه ولاړ وي۔

- معنیات semantics

په ژبپوهنه کښې د معنیاتو مطلب د ژبې د معنو په حواله مطالعه کېږي ۔ په معنیٰ پوهنه کښې د یوې ژبې د معنې د پوهېدو په طریقو بحث کېږي۔ په ظاهره خو د یوې ژبې کار هم د ابلاغ یعنې د پېغام رسولو وي او دغه پېغام د لفظونو او جملو په اوړو رسول کېږي. دغه لفظونه ،غونډونه (phrases ) او غونډلې یعنې جملې (sentences) په مختلفو وختونو او حالتونو کښې د معنې په لحاظ بدلېږي رابدلېږي۔ د ژبې د فنکشن یا کردار د معنیاتو وضیفه وي ځکه نو د ژبې د معنو په حواله هر اړخیزې مطالعې ته معنیٰ پوهنه یا semantics وائي۔

- پرګمېټکس (pragmatics)

د جملې او د هغې د چاپېرچل یعنې سیاق و سباق او د جملې او ماحول د اړیکو په حواله د معنیاتو مطالعې ته پریګمیټکس وائي۔ په دې کښې یو اځې په جمله کښې د

لفظونو په معنو خبره نهٔ کېږي بلکې په دې هم خبره کېږي چې د لفظونو او جملو نه د وېناوال څهٔ مطلب دے ځکه نو مونږ وئيلے شو چې د وېناوال د لفظونو او جملې نه چې کومې معنې اخستل غواړي هغې ته پريګمټکس وائي.

په پريګميټکس کښې هغه معنې را ډاګې ته کولې شي، کومې چې په ظاهره نهٔ ښکاري ځکه چې کله کله يو وېناوال داسې نيمګړې خبرې اوکړي چې په لفظونو کښې کومې معنې وي يا خو هغه کمې وي يا بدلې وي. دغه شان ډېر ځله داسې هم کېږي چې د سياق وسباق نهٔ بغېر ډېرې جملې مبهيمې وي، لکه د "اسم ضمير استعمال" يا همليکي homonym وغېره هله واضيحه کېږي چې د جملې د چاپېرچل سره مطالعه شي. په داسې قسمه ستونزو کښې د کلچر د بدلون د ټولنې د بدلون د وخت او زمانې هم ډېر لوئے لاس وي ځکه نو د پريګميټکس وضيفه وي چې داسې قسمه مبهيمې، کوټلې، جامع او بلاربې جملې را وسپړي او وضاحت ئې اوکړي.

- ميکرو ژبپوهنه يا مستعمله ژبپوهنه Macro / Applied linguistics

په ميکرو لينګوسټکس کښې ژبه په لويه پېمانه کتلے کېږي، چې ژبه د خپل ذات نه بهر د کومو څيزونو علمونو سره علاقه لري، کوم چې په ژبه اثر غورځوي، لکه تاريخ، ټولنه، کلتور، نفسيات، وغېره خو کهٔ مونږ په مختصرو لفظونو کښې خبره کوؤ نو چې په ژبه کښې چې دننه څهٔ هم وي هغه په مائيکرو ژبپوهنه کښې راځي او کوم چې د ژبې نه بهر دي او د ژبې ورسره تعلق وي هغې ته ميکرو ژبپوهنه وائي ـپه نورو لفظونو کښې کهٔ مونږ وايو نو مستعمله يا اطلاقي ژبپوهنه د ژبپوهنې يوه بېن العلومي څانګه ده کومه چې د ژبې متعلق د ژوند د مسئلو د پېژندګلو سره سره د هغې د حل کوشش هم کوي. مېکرو يا مستعمله ژبپوهنه مختلفې څانګې لري چې څهٔ په دې ډول دي.

- نفسياتي ژبپوهنه psycholinguistics

نفسياتي ژبپوهنه د ميکرو ژبپوهنې هغه څانګه ده، په کوم کښې چې د ژبې او

دماغو ترمېنځه د اړيکو، رشتو او رابطو په حواله بحث کېږي چې ايا د ژبې او د دماغو يعنې سوچ او فکر ترمېنځه څهٔ تعلق شته او کهٔ نهٔ. ژبه او هغه ځايونه او اندامونه د کومو په ذريعه چې غږونه پېدا کېږي د هغې په شا سوچ او فکر څهٔ عمل دخل لري کهٔ نهٔ يا لفظونو او جملو له په دماغو کښې ترتيب څنګه ورکړے کېږي. يا يوماشوم په کومو اصولو خپله او پردۍ ژبه زده کوي ځکه نو مونږ وئيلے شو چې هغه ټول عوامل کوم چې د ژبې او د نفسياتو ترمېنځه تعلق ساتي د نفسياتي ژبپوهنې په دائره کښې راځي.

- ټولنيزه ژبپوهنه/ سماجي ژبپوهنه Sociolinguistics

ژبه په بنيادي توګه په يوه ټولنه کښې د خپلو خيالاتو په حواله د ابلاغ بنيادي ذريعه ده. انساني ټولنه د ژبې نه بغېر نهٔ شي پاتې کېدے. د ټولنې د پرمختګ سره سره ژبه هم وده کوي، نوي نوي لفظونه په ټولنه کښې د ضرورت تر مخه جوړېږي، د پردو ژبو نه هم راخستے کېږي او خپل غرض او مقصد پرې پوره کېږي. د ټولنيزې ژبپوهنې اصل او بنيادي غرض او مقصد هم په ټولنه کښې د ژبې د کار او اهميت په حواله دے، چې د ژبې او ټولنې ترمېنځه څهٔ رشته ده؟ ټولنه په ژبې او ژبه په ټولنه څنګه اثر انداز کېږي؟ د دې سره سره د دې سوالونو د جوابونه هم لټوي چې د ټولنې او سماجي بدلون سره ولې ژبه بدلېږي ؟ دغه شان په ټولنه کښې مختلفې ډلې او وګړي د خپل سماجي حېثيت، جغرافيائي لرېوالې په وجه ولې د يو بل نه ژبه په لږ ډېر بدلون سره وائي؟.

سماجي ژبپوهنه د مختلفو جفرافيائي سيمو او د مختلفو طبقو ترمېنځه په ژبه کښې د بدلونونو تر مېنځه مطالعې ته وئيلے شي. په مختلفو جغرافيائي سيمو کښې د ژبې په مختلفو قسمونو کښې د تلفظ فرق هم وي. کله کله دا بدلونونه د يوې جغرافيې او په يوه سيمه کښې د سماجي فرق او د اقتصادياتو وجې هم کېدے شي لکه د محنت کش او اشرافيه ترمېنځه د ژبې د وئيلو فرق ئې واضيحه فرق دے.[11]

- تاریخي ژبپوهنه:

په تاریخي ژبپوهنه کښې په هغه بدلونونو کوم بدلونونه چې په مختلفو دورو کښې رامېنځ ته شوي وي، هغه لفظونه، اوازونه او ګرائمري بدلونونه چې له مېنځه تلي دي یا راغلي دي په هغې غور او څېړنه کېږي.

"ژبپوهنه او تاریخ هم خپلو کښې ډېر نذدې تعلق لري. د تاریخ ډېرې غوټې د ژبې ماهرانو پرانستې دي، ځایے په ځایے د موندلے شوؤ کتبو نه د تاریخ کړۍ سمېدے شي، چې کله یو قوم په بل قوم حکومت کوي نو د هغوي په ژبه او کلچر به خامخا اثر غورځوي. دغه شان کۀ دوه قومونه یو بل سره تجارت کوي نو هم به د یو بل په ژبه اثر غورځوي. په یورپ کښې او په ویلز کښې د جپسي خلقو په ژبه کښې د هندوستاني لفظونو کثرت دا ښائي چې دا خلق به پخوا زمانه کښې په هندوستان کښې اوسېدل او بیا دغه علاقو ته او کشېدل.[12]

- جغرافیائي ژبپوهنه:

په انساني ژوند د چاپېچل او جغرافیې ژور اثر وي او ژبه د انساني ژوند یوه داسې مهیمه آله ده چې په جغرافیائي عواملو اثر انداز کېږي او جغرافیائي عوامل په ژبه اثر انداز کېږي، ځکه چې د هرې سیمې او جغرافیې د اولس خپل خپل ضرورتونه او نفسیات وي. هم په دغه سوب د ژبپوهنې د ماهرانو په خیال تقریباً هر اتۀ میله پس په ژبه کښې بدلون راځي. د هرې جغرافیې د خلکو خپلې خپلې روزمرې او متلونه وي. دغه شان د څۀ خاصو څیزونو او خاصو ځایونو په وجه ئې لغتونه هم مختلف وي.

- انتراپولاجیکل ژبپوهنه

د ژبې جوړښت هم لکه د نورو قدرونو، دودونو، خوراک او پوشاک په رنګ کلتوري اساس لري. ژبه د کلتور، عقیدو او تصوراتو مجسم کولو یوه ذریعه او طریقه

وي، د هرې سيمې خلک ځانله د خپل کلتور مطابق څيزونو او ځايونولـه نومونـه ورکـوي او خپل ژوند له پخپله ترتيب ورکوي.

- کمپيوټري لېنګوسټکس computational linguistics

کمپيوټېشنل يا کمپيوټري ژبپوهنه د ژبپـوهنې يـوه بـېن العلـومي څانګـه ده چې تعلق ئې د وئيلې او ليکلې ژبې پـه کمپيوټري نقطـه نظر سـره مطالعـه ده ـ دا د کمپيـوټر سائنس، پروګرام کولو programing او کوډ کولو يعني coding مفکورې د ژبپـوهنې سره يوځـا ے کوي او دا معلوموي چې ژبه څنګه په کمپيـوټر او د عمليـاتي سسـټمونو پـه شرائطو کښې کار کوي.

- پرتليزه ژبپوهنه Comparative linguistics

پرتليزه ژبپوهنه هم د ژبپوهنې يوه څانګه ده پـه کومـه کښې چې د يـوې څـانګې د ژبو يا يو شان ژبو ترمېنځه په پرتليزه توګه مطالعه او څېړنه کېږي او د ژبو ورتـه والـے او توپير راډاګې ته کوي.

لکه څنګه چې د دې څانګې د نوم نه واضيحه ده چې پـه دې کښې دوه يـا د دواؤ ژبو نه د زياتو ژبو تقـابلې جائزه اخسـتلے کېږي او هرڅو کـۀ دغـه ژبې د يـوې څـانګې نـۀ جوړې شوې دي يعني خوېندي ګڼلې شي ولې د وخت تېربـدو سره پـه ژبـو کښـې تغيـر او بدلون راغلے دے ځکه نو په څۀ ځايونو کښې اوس هم مماثلتونه پـه نظر راځي او پـه څـۀ ځـايونو کښـې فرقونـه دي ـ دا قسـمه مماثلتونـه او توپيرونـه راډګـې تـه کـول او د هغـې مطالعه کول د تقابلې يا پرتلېزې ژبپوهنې کار وي.

- اسلوبيات stylistics

اسـلوبيات د اسـلوب مطالعـه وي کـوم چـې د ليـک يـا وينـا انـداز وي ـدا هـم د ژبپـوهنې د څـانګو پـه شـمار کښـې راځي،پـه کـوم چـې د وئيلـې او ليکلـې دواړو ژبـو د اسلوب style او لهجې tone مطالعه کېږي.دا محض د علامت،خبرو اترو ،سيمه ايز

اکسنټ، شاعرۍ او د جملې ساخت او ادب پورې محدود نهٔ وي بلکې په دې کښې د اسلوب د خصوصیاتو د هر اړخیزې جائزې سره سره د عامو خلکو په ژوند کښې د خبرو اترو او وېنا د استعمال هم جائزه اخستې کېږي۔

- عدالتي ژبپوهنه Forensic Linguistics

عدالتي ژبپوهنې ته په انګرېزۍ کښې فرانزک لینګوسټکس وائي، په کومه کښې چې د ژبې په حواله داسې مطالعه کېږي چې هغه قانوني حېثیت هم لري او د عدل او انصاف په مېدان کښې پکار راځي ۔ د مثال په توګه کۀ په دې ژبپوهنه کښې څوک د غږ یا خبرو اترو جائزه اخلي نو دا ژبپوهنه دې نتیجې ته رسي چې دا خبرې په کوم ماحول او کوم ردم کښې شوې دي ۔ دغسې د یو لیک د اصلي او نقلي جائزه هم په فرانزک لینګوسټکس کښې اخستے کېږي د دې سره سره د ائین او قانون د ځانګړي ژبه او اصطلاحات هم د دې څانګې برخه وي۔

لکه څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې ورځ تر ورځه د علمونو په مېدان کښې فراخي راځي او د هر علم په څۀ نه څه شکل کښې د ژبې سره نېغ په نېغه تعلق وي ځکه نو په دغه حواله د ژبپوهنې او په خصوصې توګه د مستعملې ژبپوهنې په لمنه کښې هم اضافه کېږي لکه د مثال په توګه ریاضتي ژبپوهنه، کلینکي ژبپوهنه، حیاتیاتي ژبپوهنه، فوکلوري ژبپوهنه، تعلیمي ژبپوهنه وغېره وغېره ۔ دلته د طوالت له وجې هم په دغه مذکوره څانګو اکتفا اوشوه ۔

- د ژبپوهنې مکتبونه Different Schools of linguistics

د یو فکر هدف او مقصد په غرض چې کوم خلک راټول شوي وي او هڅې کوي، چې د خپلو غرضونو او مقصدونو په تر لاسه کولو کښې بریالي شي، دغه د یو فکر خلک یا ډله په مکتب بللے شي ۔ کۀ مونږ فکر کوُو نو د ژوند په هر ډګر مختلف مکتب فکر خلک هڅې کوي ۔ د ژبپوهنې په حواله هم مختلف مکتب فکر خلک یا ډلې شتون

لري او وخت په وخت په دغه ډلو کښې اضافې کېږي، ځکه چې نوي نوي خيالات او تصورات را مېنځ ته کېږي، خو تر اوسه پورې چې کوم مکتبونه مشهور دي او د ذکر وړ دي هغه څلور دي چې ذکر ئې څۀ په دې ډول دے .

- فنکشنليزم Functionalism

فنکشنلزم اصطلاح په ژبپوهنه کښې په ۱۹۳۰ء کښې د پراګ ډلې (Prague school of linguist) له خوا وده وموندله. مطلب ئې دا وو چې په مختلفو ژبو کښې موجود عناصر په ګرائمري لحاظ او صوتياتي لحاظ دندې څنګه ترسره کوي؟[13]

د دې مکتب فکر واله په دې خبره زور ورکوي چې يوه ژبه په حقيقت کښې څنګه په روزمره ژوند کښې استعمالېږي .هغه څوک چې د فنکشنلزم پېروي کوي ژبې ته د انسان د کارولو لپاره د يوې بلې وسيلې په توګه ګوري .دغه شان په ژوند کښې ژبه د ژبې استعمال او د دې مختلفې برخې د توجه مرکز ګرځوي . لکه د غږونو، معنو، ترکيبونو او د دې سره سره د ژبې pragmatics اړخونه هم د مطالعې لاندې راولي .په فنکشنلزم کښې د يوې ژبې په ګرائمر، فونالوجي، ارتهوګرافي (خوشخطي) او د سماجي سياق و سباق او ابلاغ په اهميت هم زور ورکړې کېږي.

- ساختياتي ژبپوهنه Structuralism linguistics

"ساخيتياتي ژبپوهنه د يوې ژبې د بنيادي ساخت مطالعې ته وئيلے شي . په دې کښې د ژبې په غږونو او لفظي ساخت زور ورکولے شي او د جملې ساخت په پام کښې نۀ نيولے کېږي او نۀ د لفظونو معنو ته څۀ خاص پام کولے شي. ساختياتي ژبپوهنې په امريکه کښې د نولسمې پېړۍ په شروع کښې وده وموندە بلوم فيلډ ساختياتي ژبپوهنې ته يو بنيادي شکل ورکړو . د دې نه علاوه ايډورډ سيپر ،بينجمن لي وورف او زيليګ هيرس د سختياتي ژبپوهنې نومورې پلويان وو.[14]

دې ساسور د ژبپوهنې د پاره ساختيات يوه داسې تګلاره ټاکلې ده، د هغه په

خیال ژبې د مختلفو اکائیانو نه جوړ هغه تنظیمونه وي چې یوه اکائي د بلې سره نخښلي ـهغه د فونولوجي او مارفالوجي له پاره کار کوؤ.

- جنرېټیوزم Generativism

د جنرېټیو مکتب په وجود کښې د راتلو سبب د نوم چامسکي کار او زیار بنیاد وګرځېدو ـ دا د هغه تګلاره ده، په کوم کښې چې په اصل کښې دا وضاحت کېږي چې انسان څنګه په وړومبي ځاے کښې ژبه زده کوي ـ د انسان په وړومبي ځل د ژبې د زده کړې د بحث سره سره ډېر زر د فطري ژبو د مختلفو اړخونو د وضاحت ذمه واري هم د دې مکتب په لوستنه کښې شامله شوه ـ د دې مکتب په خیال د ژبې څۀ داسې خاص بنیادي اصول شتون لري چې په ټولو ژبو کارولے شي ځکه نو هم د دې خیالاتو په وجه د افاقي ګرائمر "universal grammer" نظریه په وجود کښې راغله، د کوم زده کړه چې ټول انسانان کولے شي.[15]

- کګنېټیو ازم Cognitivism

دا مکتب په ۱۹۵۰ء کښې د جنرېټیو مکتب په ردعمل کښې په وجود کښې راغلے دے. په بنیادي توګه دا مکتب والا په دې خبره یقین نۀ لري چې ګنې یو افاقي ګرائمر شتون لري، چې ټول انسانان پرې پوهېږي یعني دا یو داسې ګرائمر دے چې په ورثت کښې انسانانو ته مېلاؤ شوے دے او په تولو ژبو کارولے کېږي. دوي وائي چې انسانان د ژبې د استعمال په وجه دا هرڅۀ زده کوي. په دې دا مکتب تر ډېره حده فنکشنلزم ته ورته دے.

په هر صورت ادراکي مکتب Cognitivism په دې خبره زور ورکوي چې ذهن څنګه په ژبه کښې معنې جوړوي.[16]

# حوالې

[1] فلا لوجي يوه يوناني زړه کليمه ده چې د philos او logos نه جوړه ده او معنې ئې بالترتيب مينه او پوهه ده چې مطلب ئې د پوهې سره مينه يا د علم سره مينه ده په اول اول کښې دا اصطلاح په يونان کښې د ګرايمر او بيا د خطاطۍ د فن د پاره وکارولې شوه هم دغه کلمه بيا په يورپ کښې د دې اصطلاح نه د يوې ټولنې د ادبي ژبنيو اړخونو سره سره د تاريخي او کلتوري څېړنې په توګه کاروله.

[2] https://www.britannica.com/science/linguistics ،Date 10/08/2021,PST 12:40 PM.

[3] Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics, second edition,PHL learning private limited Delhi-110092, 2014,page no, 13,14.

[4] عامر سہیل،ڈاکٹر،جدید لسانیاتی اوراسلوبیاتی تصورات،مثال پبلشرز رحیم سینٹر پریس امین پور بازار،فیصل اباد۲۰۲۱،ص ۲۲

[5] Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics,page no, 14.

[6] https://www.britannica.com/science/science Dated 10/08/2021, PST, 04:50 PM.

[7] اقتدار حسین خان،ڈاکٹر،لسانیات کے بنیادی اصولُ ایجوکشنل بک ہاوس،علی گڑہ،۱۹۸۵،ص،۱۵

[8] بشریٰ اکرام،ډاکټر،ژبپوهنه۔ پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي،۲۰۱۸،مخونه،۲۵، ۲۶.

[9] بشریٰ اکرام،ډاکټر،ژبپوهنه مخ ۲۸

[10] اقتدار حسین خان،ڈاکٹر،لسانیات کے بنیادی اصولُ،ص ۱۶

[11] Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics،,page no23.

[12] بشریٰ اکرام،ډاکټر،ژبپوهنه مخ ۸۹.

[13] https://www.britannica.com/science/functionalism-linguistics Dated,21/10/2020, PTS,10:00.

[14] بشریٰ اکرام،ډاکټر،ژبپوهنه مخونه ۳۲۷، ۳۲۲.

[15] https://alphaomegatranslations.com/translation-tools/the-four-main-linguistic-schools-of-thought/ Dated,21/10/2020 PST, 2:00PM.

[16] https://alphaomegatranslations.com/translation-tools/the-four-main-linguistic-schools-of-thought/ Dated,21/10/2020 PST, 2:00PM.

Reference
1.https://www.britannica.com/science/linguistics ،Date 10/08/2021,PST 12:40 PM.
2. Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics, second edition,PHL learning private limited Delhi-110092, 2014,page no, 13,14.
3. Amir sohail,Dr, jaded lisaniyati aor aslobiyati Tasorat,missal publisherz Rahim center press amen por bazar, Faisl abad, 2021,p22.
4. Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics,page no, 14.
5. https://www.britannica.com/science/science Dated 10/08/2021, PST, 04:50 PM.
6. Iqtdar hussain Khan, Dr,lisaniyat kay bunyadi asol, educational book house, ali garrh,1985,P,15.
7. Bushra ikram,Dr,jabpohana,pukhto acedmy pikhawer university,2018,p 65,66.
8.Bushra ikram,Dr,jabpohana,p 68.
9.Iqtdar hussain Khan, Dr,lisaniyat kay bunyadi asol,P 16.
10.Syal Pushpinder .D.V.jindal, An Introduction to Linguistics, language Grammar and Semantics،,page no23.
11. Bushra ikram,Dr,jabpohana,p 89.
12. https://www.britannica.com/science/functionalism-linguistics Dated,21/10/2020, PTS,10:00.
13. Bushra ikram,Dr,jabpohana,p 366,367.
14.https://alphaomegatranslations.com/translation-tools/the-four-main-linguistic-schools-of-thought/ Dated,21/10/2020 PST, 2:00PM.
15. https://alphaomegatranslations.com/translation-tools/the-four-main-linguistic-schools-of-thought/ Dated,21/10/2020 PST, 2:00PM.